د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 419**

(22 میزان – 28 میزان 1402 هـ ش)

## د اقصی طوفان تاریخي عملیات او په افغانستان کې یې انعکاس




**دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.**

**په دې گڼه کې لولئ:**


- د اقصی طوفان تاریخي عملیات او په افغانستان کې يې انعکاس........................................3
- غېرگونونه او رسمي دريځونه ..................................................................3
- ولسی تائيد ...........................................................................................5
- افغانان او فلسطين ..................................................................................6
- د فلسطين مسئلې پر وړاندې د افغانانو مسؤليت ........................................................8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**د اقصی طوفان تاریخي عملیات او په افغانستان کې یې انعکاس**

## د الاقصی طوفان څنګه پیل شو؟

د شنبې په سهار 15 میزان 1402 هجري/ 6 اکتوبر 2023 نېټه، اقصی طوفان د منځني ختیځ سیمه ولړزوله. دغه توپان چې له محاصره شوې غزې څخه د اسلامي مقاومت غورځنګ «حماس» د پوځي څانګې کتائب عزالدین قسام له خوا پیل شوی وو، په ډېر مهارت او مسلکي توګه یې له هوا، ځمکې او سمندر څخه د غزې ترانګې ته نږدې اشغال شوې سیمې په نښه کړې. د دې عملیاتو په ترڅ کې د حماس مبارزینو د غزې تړانګې ته څېرمه د اشغالګر رژیم ( اشغال شوي فلسطین ) د پوځي تاسیساتو شاته 9 پوځي مرکزونه په نښه کړل او په دغو مرکزونو کې موجود پوځي ځواکونه یې ووژل او ونیول. دوی د غزې په ترانګه کې د یهودي میشت ځایونو ته هم ننوتل ترڅو خپل ځواک وښیي او هغوی ته خبر ورکړي چې فلسطین نور د دوی لپاره خوندي ځای نه دی او غوره ده چې ژر تر ژره یې اصلي مالکینو ته وسپارل شي.

نیواکګر رژیم د امریکا او غربي نړۍ په ملاتړ خپل ظالمانه، نیواکګر او وحشیانه سیاست ته دوام ورکوي او د دغه سیمې د اصلي اوسیدونکو لپاره یې د ژوند چارې ورتنګوي. دوی اسلامي مقدسات تر پښو لاندې کړي، په مسجد الاقصی کې یې مسلمانان ځورولي او هر وخت افراطي او کرکه لرونکو یهودانو د رژیم په ملاتړ د مسجد حریم تر پښو لاندې کړی او له لمانځه او عبادت څخه یې منع کړي دي. په ډېرو ښارونو او ښارګوټو یې یرغلونه کړي او کله ناکله په پوځي بریدونو سره د ځوانانو، بوډاګانو، ښځو او ماشومانو په ګډون ډېر شمیر فلسطینیان وژني. خو دبشری حقونو د ټولو بنسټونو او د نړیوالې ټولنې چوپتیا او دصهیونیسټ نیواکګر رژیم د تیریو او وژنو په زیاتیدو سره د زړورو فلسطینیانو د صبر کاسه نوره هم ولړزیده او بالاخره یې په زړورتیا حمله وکړه.

برید دومره حیرانوونکی، ګړندی او ټکان ورکوونکی و چې په پایله کې یې د اشغالګر رژیم سیاسي مشرتابه، اردو او استخباراتو خپل انډول له لاسه ورکړ او سرګردانه شول. د عملیاتو له پیل څخه ۷۲ ساعته وروسته، نوښت په بشپړه توګه د حماس د بریدګرو په لاس کې و او د اسراییلو پوځي مشرتابه اصلاَ د پرېکړې کولو توان له لاسه ورکړی و. لومړي وزیر نتنیاهو هم خپل هوش له لاسه ورکړی و او په ویناوو کې یې له ګواښوونکو څرګندونو او تشو الفاظو پرته بل څه نه موندل کېدل. د لویې کابینې څو غونډې وشوې او ورپسې د وړې کابینې څو غونډې وشوې، خو کومه څرګنده پریکړه یې ونه کړه.

**غبرګونونه او رسمي دریځونه**

د الاقصی طوفان د عملیاتو له پیل راهیسې د نیواکګر رژیم د بنې اړخي حکومت لومړی وزیر بنیامین نتیاهو د مختلفو هیوادونو په تیره بیا د امریکا او اروپایي هیوادونو له مشرانو سره په تماس کې وو. له غزې

 څخه د حماس له حملې وروسته د غاصب رژيم د مشرتابه ترټولو ستره اندېښنه دا وه چې د لبنان او سوريې له پولو د نورو وسله والو ډلو له خوا د غاصب رژيم په خلاف دغه ډول حملې ونشي.

په دې سختو شيبو کې اروپايي هيوادونه او د امريکا متحده ايالات د نيواکگر رژيم ملاتړ ته راووتل، د امريکا ولسمشر جوبايډن چې د روسانو لخوا د اوکرايين د ځينو برخو د نيواک په پلمه يې د اوکراييين طرفداری کړی ده. د ټولو انساني معيارونو په خلاف يې نتانياهو ته يو خالي چک ورکړ چې د غزې په خلکو د نيواکگر رژيم د غچ اخيستلو د هر ډول عملياتو ملاتړ به وکړي. دامريکا ولسمشر په همدې بسنه ونه کړه بلکې اعلان يې وکړ چې د نيواکگر رژيم د ملاتړ لپاره به د ګيرالډ فورډ توره بېړۍ منځني ختيځ ته واستوي. د امريکا ولسمشر همداراز د ايران د ډاډ لپاره ټينګار کړی، چې د الوتکې وړونکې بېړۍ د لېږلو موخه په جګړه کې ګډون نه، بلکې له اسراييلو ملاتړ دی. ايران چې دغه څرګند پيغام ترلاسه کړی، امريکا او نيواکگر رژيم ته يې ډاډ ورکړی چې تر څو حملې لاندې رانه شي تر هغو به پر اشغالګر رژيم بريد ونه کړي. که څه هم د لبنان حزب الله؛ د ايران نږدې متحدانو د اکتوبر له اتمې نيټې څخه د غاصب رژيم پر ضد يو لړ نمايشي عمليات ترسره کړي، خو دغه عمليات نه د حزب الله د جنګي توان په تناسب وو او نه يې هم د غاصب رژيم د هغه وحشيانه هوايي بمباريو فشار کم کړ، چې د غزې په بې دفاع خلکو باندې شل ساعته يې دوام وکړ. ايران چې په سيمه کې د خپلو متحدو وسله والو ډلو په ګډون د بيت المقدس د ازادۍ ادعا کوي، د فلسطين د ازادۍ لپاره په دې تاريخي مبارزه کې بې طرفه پاتې شو. له همدې امله د غاصب رژيم زړورتيا په خپل وحشيانه چلند کې زياته شوه او په هغو کورونو يې بمبارۍ ته دوام ورکړ چې ښځې او ماشومان پکې له زياتې ويرې سره مخ وو او د دغو بريدونو ۷۰ سلنه قربانيان ښځې او ماشومان دي. غاصب رژيم د دغې تاريخي ناکامۍ د پټولو په خاطر په قصدي ډول او د آزادۍ او د ښځو او ماشومانو د حقوقو د دفاع ورکوونکو شعارونو د مشرانو په ملاتړ هغوی په نښه کوي تر دې چې په هغه روغتون يې بريد وکړ چې د پاتې ماشومانو او ښځو درملنه په کې کېدله او هغه خونړۍ قصاب خانه يې جوړه کړه چې د نږدې يوې پېړۍ په خونړي او وحشيانه تاريخ کې يې پرې د حيوانيت مهر ولګاوه.

په همدې حال کې د اسلامي هېوادونو دريځ؛ عربي او غير عربي؛ سعودي، مصر، سوډان، اردن، پاکستان، ترکيه، ماليزيا، اندونيزيا او داسې نورو واقعاً د شرم وړ دی. چيرته چې نه يوازې د فلسطين د خلکو د حقه حقوقو د ملاتړ او د دغه ظالم رژيم د نيواک په وړاندې د هغوی د حقه مبارزې لپاره کوم غښتلی غږ پورته نه شو، بلکې په مرګوني چوپتيا او بې روحه ډيپلوماتيکو څرګندونو سره اسرائيلو ته دا موقع ورکړل شوه چې په خپل واک کې هر څه لري د حماس غورځنګ او د غزې خلکو په وړاندې يې وکړي. البته د قطر او کويت حکومتونه د غزې په تړانګه د نيواکگر رژيم د هوايي حملو د سمدستي بندولو او غزې ته د بيړنۍ بشری مرستو د لېږلو لپاره د قدر وړ دي. د تېر ځل په پرتله دا ځل د سعودي دريځ هم ښه و، خو د تمې برعکس رجب طيب اردوغان؛ د ترکيې ولسمشر د غزې په تړانګې د نيواکگر رژيم د وحشيانه حملو په وړاندې کلک دريځ



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ونه وښود. که څه هم نوموړي دغه بریدونه وحشیانه او غیر انساني وبلل، خو د دې رژیم پر وړاندې یې د پخوا په څیر د قوی حمایت کوم غږ نه وو. ښايي د ترکیې اقتصادي ستونزې او له امریکا او متحدینو څخه د همکارۍ تمه د دغه کمزوري دریځ اصلي لامل وي، خو د غزې خلک او مسلمان ملتونه به د اردوغان غوندې شخص دغه بزدلانه دریځ هیڅکله ونه بخښي.

### ولسي تائید

الحمدلله اسلامي امت یو ژوندی امت دی، د استبدادي او غربي وابسته حکومتونو له واکمنۍ سره سره د اسلامي امت په چارو کې د ایمان له غوښتنو سره سم او په بیدار وجدان عمل کوي. د الاقصی طوفان د عملیاتو له پیل څخه د مسلمانو ولسونو دغه مثبت غبرګون د رسنیو او ټولنیزو پاڼو له لارې په پراخه کچه څرګند شو. دوی د غاصب رژیم د پوځي مرکزونو په خلاف د ناځاپي عملیاتو په ترسره کولو سره د حماس د بریا له امله د فلسطین ملت ته مبارکي وویله او د خوشحالۍ مراسم یې ترسره کړل. له هغه وخته چې په غزې ترانګې د نیواکګر رژیم وحشیانه او انتقامي بریدونه پیل شول، مسلمان ولسونه سړکونو ته راووتل او په پراخه پیمانه یې د دغه وحشیانه عملیاتو په وړاندې خپله کرکه او نفرت ښکاره کړه. دوی د غزې او د هغه د خلکو د ساتنې لپاره شپه او ورځ خدای ته دعا وکړه او د غزې او د فلسطین د خلکو له حقونو څخه یې په مختلفو لارو خپل نه ستړې کیدونکی ملاتړ څرګند کړ.

الحمدلله د حق او باطل په دې جګړه کې د افغانستان د مجاهد ولس ځای هم خالي نه و، د اقصی د طوفان له لومړیو شیبو څخه د افغانانو ټولنیزې پاڼې د حماسو مجاهدینو ته د مبارکۍ او مرګ پر اسرایل او مرګ پر امریکا شعارونو او ورته پیغامونو باندې پاڼې ډکې وې. د افغانانو غوڅ اکثریت د حماس له مجاهدینو او د غزې د خلکو ملاتړ وکړ او د غزې د اشغالګر رژیم له ړندو او وحشیانه بمباریو یې خپله نفرت او کرکه څرګنده کړه. د جمعې په ورځ د میزان په ۲۱مه (اکتوبر ۱۳) د غزې په ټولو لویو ښارونو کې د غاصب رژیم د هوایي یرغل په خلاف او د غزې د خلکو په ملاتړ پراخې مظاهرې وشوې. د کابل، جلال اباد، نیمروز او غور ښارونه د غزې په ترانګه کې د اشغالګر رژیم د یرغل پر ضد د افغانانو د پراخو لاریونونو شاهدان وو. د کابل په لاریون کې، چې د کابل ښار او ولسوالیو ګڼ شمیر اوسېدونکو، د پوهنتون استادانو، ځوانانو، علماوو او مجاهدینو په کې برخه اخیستې وه، د جمعې له لمانځه وروسته د کابل ښار د تاریخي عیدګاه جومات مخې ته چې د خپلواکۍ سمبول دی راټول شوي وو. ویناوالو د ټولنې د بېلابېلو څانګو په استازیتوب خبرې وکړې او د حماس او د غزې له خلکو یې خپل عمومي او بشپړ ملاتړ اعلان کړ. دوی د قدس مسئله د اسلامي امت قضیه وګڼله او د خلاصون لپاره یې مبارزه د هر افغان دنده وګڼله. د لاریون ګډونوالو مرګ پر اسرائیل او مرګ پر امریکا شعارونه ورکول او د غاصب رژیم بیرغ یې وسوځاوه.

**افغانان او فلسطين**

د اسرا او معراج، فلسطين او بيت المقدس سره د افغانانو تړاو پخوانی اړيکه ده. د عثماني خلافت په دوره کې افغان حاجيانو چې شمير به يې زرګونو ته رسيده مکې ته د تللو او بيرته راتلو پر وخت به په بيت المقدس او اقصی جومات کې پاتې کېدل. په ۱۰۴۳ هجري قمري کال کې يو شمير افغانانو د بيت المقدس له يوې دروازې «باب الغوانمه» سره په څنګ کې چې د مسجد الاقصی له دروازو څخه ده د «الزوية الافغانيه» په نوم يوه خانقاه جوړه کړه چې د هغه وخت د عثماني والي محمود باشا لخوا د قدس په اوقافو کې شامل شوه او اوس هم فعاله ده. افغان خانقاه يو جومات او دولس کوچنۍ خونې لري، چې د حج په موسمونو کې د افغان حاجيانو د خدمت او د ذکر د حلقو د تنظيمولو لپاره کارول کيده. دغه خانقاه، د بخارا خانقاه او د هند خانقاه ، د حج په سفر کې د منځنۍ او سويلي آسيا مسلمانانو ته تود هرکلی او خدمت کوي. په هغه وخت کې افغانستان د عثماني خلافت سره اړيکې درلودې او افغانان په ازاده توګه فلسطين ته تګ راتګ کولی شو. له هغه وخت راهيسې د جفا په ساحلي ښار کې يو شمير افغاني کورنۍ اوسيدلې، خو د صهيونيستي رژيم له راڅرګنديدو او د ۱۹۴۸ کال د ناورين له امله فلسطيني افغانان نورو ښارونو لکه نابلس، قلقيليه او قدس ته مهاجر شول چې اوس هم هلته ميشت دي. په بيت المقدس کې يوه افغاني خانقاه چې د قادريه خانقاه نوميږي؛ دا هم شيخ عبدالقادر جيلاني ته منسوب ده. د دې خانقاه يو له پخوانيو مشرانو څخه حاجي عبدالله د رحمدل شاه افغان زوی و چې د غزني په قره باغ کې زيږيدلی او له ۱۹۳۸ څخه تر وفات (۱۹۷۹) پورې د دې خانقاه د لارښود په توګه پاتې شوی دی. افغاني خانقاه اوس هم فعاله ده او مسؤليت يې د شيخ عبدالکريم افغاني په غاړه لری، چې هره ورځ پکې د ذکر حلقې او کلني ديني پروګرامونه ترسره کيږي.[1]

الحمد لله چې په هېواد کې دننه افغانان د اسلامي امت له مسايلو او په ځانګړې توګه د فلسطين او د مسجد اقصی له مسئلې سره ژوره خواخوږي لري او په دې برخه کې يې له خپل ټول توان سره د هيڅ شي څخه ډډه نه ده کړې. افغانان د اسلامي مقدساتو د دريم حرم او د اولې قبلې په توګه د فلسطين دفاع د عبادت او د دين يوه برخه ګڼي. له همدې کبله له هماغه پيله له صهيونيستي رژيم سره دښمني لري، د فلسطين له مجاهدينو او په اقصی کې له مرابطينو سره مينه لري.

دا خواخوږي اوږد تاريخ لري او هغه وخت ته ځي چې د مرحوم محمد صادق المجددي زوی محمد هارون المجددي؛ په مصر کې د افغانستان سفير په حقيقت کې د سويز کانال په جګړو کې د اسرايلو د مدافع برتانوي ځواکونو په وړاندې د اخوان المسلمين د مجاهدينو په ليکو کې برخه اخيستې وه او وروسته په همدې جرم په مصر کې زنداني شو. د محمد ظاهر شاه (د افغانستان وروستی پاچا) د واکمنۍ په منځ کې؛ ، په

[1] https://www.aljazeera.net/news/alquds/2016/7/18/الزاوية-الأفغانية-بالقدس-اعتزال-

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کابل کې مسلمانو علماوو او مبارزینو د القدس مجاهدینو لپاره له خلکو څخه مالي مرستې راټولولې. او په جوماتونو کې به اجتماعي دعاګانې کیدلې او د شاهي رژیم په پای کې چې د اسلامي بیدارۍ څپې د افغانستان پوهنتونونو او علمي ټولنو ته ورسیدې، له بیت المقدس څخه دفاع او د صهیونیستي رژیم د مشروعیت په رسمیت نه پیژندل د افغان مسلمان ځوانانو د غورځنګ له پرله پسې دریځونو څخه وو او په کوڅو کې د مظاهرو او مقالو او لیکونو تر څنګ تل د مرګ په اسرائیل او ژوندی دی وی بیت المقدس شعارونه ورکول کیدل.

د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور له کودتا او د افغانستان پر خاوره د سرو لښکرو له وحشیانه یرغل وروسته د اسلامي امت په زرګونو بااحساسه ځوانان او علما پاکستان ته ولاړل او د مجاهدینو له کاروانونو سره افغانستان ته داخل شول او د سرو لښکرو پوځ پر وړاندې یې په سپېڅلي جهاد کې برخه واخیسته. په دغو فداکارو ځوانانو کې په سلګونو فلسطیني بچیان هم شامل وو چې د افغانستان بېلابېلو محاذونو ته ولاړل او په مېړانه یې جهاد وکړ، تر دې چې د جهاد په تودو سنګرونو کې په لسګونو زره شهیدان شول. او د دوی پاکې وینې د افغان شهیدانو له وینو سره یو ځای د دواړو فلسطیني او افغان ولسونو تر منځ د ورورګلوۍ اړیکې لا ټینګې کړې. د اتیایمې لسیزې په نیمایي کې، کله چې د شوروي اتحاد پر ضد جهاد، یو نازک پړاو ته رسېدلی و، د فلسطین نامتو عالم او دعوتګر ډاکټر عبدالله عزام رحمه الله د افغان مجاهدینو مرستې ته ورغی او د مکتب خدمات مجاهدین په جوړولو سره یې د افغانستان د فتحې لپاره د مرستو په راټولولو او همغږۍ کې ستر ګام واخیست. هغه په خپل علمي استعداد سره افغان جهاد د ټولو هغو کسانو لپاره چې ددې کار توان لري فرض عین بللی و او په دې تاریخي فتوا سره یې وکولای شول چې ډېر خلک، بنسټونه او فکري او سیاسي جریانونه د جهاد په څنګ کې ودروي. د استاد عزام د پرله پسې هلو ځلو له برکته له بېلابېلو اسلامي هېوادونو څخه د افغان جهاد او په بهر کې د افغان مهاجرینو لپاره پراخې منابع پیدا شوې.

په ۱۹۸۷ کال کې چې عبدالله عزام رحمه الله لا د هجرت په خاوره کې و، د اسلامي مقاومت غورځنګ حماس چې ستر روحاني مشر یې شیخ احمد یاسین وو، تاسیس شو او په دننه کې د لومړي انتفاضې مبارک تحریک پیل شو. همدا راز یې هیله درلوده چې د افغان جهاد له بریا وروسته خپل وطن ته ستون شي او د مبارک انتفاضې خدمت وکړي. خو د آزادۍ او انسانیت دښمنانو اجازه ورنکړه چې هغه د خپلو ایډیالونو واقعیت په خپلو سترګو ووینې. د ۱۹۸۹ کال د نومبر په ۲۴ مه د سړک د غاړې د ماین د چاودنې له امله هغه او د هغه دوه ماشومان محمد او ابراهیم په پاکستان (پېښور) کې ووژل شول. دا سمه ده چې عبدالله عزام شهید د انتفاضې له نوي غورځنګ سره په یو ځای کیدو کې بریالی نه شو، خو د هغه لسګونه تکړه مجاهدین چې د سرو لښکرو پر وړاندې یې د جګړې په ډګرونو کې فزیکي ځواک او جنګي مهارتونه ترلاسه کړي وو، ورو ورو د هجرت خاوره پرېښوده او د فلسطین مقاومت ته یې ځانونه وقف کړل.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

### د فلسطین مسئلې پرورانډې د افغانانو مسؤلیت

سره له دې چې د افغانستان خلک له فلسطین سره د تاریخي دیني اړیکو درلودونکي دي او د غزې د اشغالګرو د اشغال په وړاندې د غزې د مجاهدینو له روان مقاومت سره د ښو احساساتو په لرلو سره بیا هم په دې اړیکو کې څه تشې شته چې باید ډکې شي. دغه تر ټولو مهمې تشې په لاندې ډول دي:

**1. د سم خبر په ترلاسه کولو کې پاتې راتلل**

له بده مرغه زیاتره افغانان په تېره بیا ټولنیز فعالان او د رسنیو چلوونکي له عربي ژبې سره د نه بلدتیا له امله په ټولیزه توګه د منځني ختیځ په اړه خبرونه او د فلسطین او د غاصب رژیم تر منځ د اړیکو خبرونه په ځانګړي ډول له فارسي او انګلیسي سرچینو څخه ترلاسه کوي. کوم چې په یو ډول د دې رژیم سیاست ته خدمت کوي. نیواکګر رژیم د خپلو بې شمېره شتمنیو په مرسته ګڼ شمېر رسنۍ په تېره بیا غربي رسنۍ تر خپل نفوذ لاندې راوستي او په دې توګه غواړي په نړۍ کې خپل تور مخ سپین کړي. غاصب رژیم په رسنیو کې په پانګونې سره غواړي چې د غزې د وروستیو بریدونو په شمول د فلسطینیانو په وړاندې په هره جګړه کې ځان مظلوم وښیي او د فلسطین او د فلسطین د ازادۍ مجاهدین چې په عادلانه توګه جګړه کوي د ظالمانو په توګه انځور کړي. کله نا کله د فلسطین په اړه زموږ د هیواد د رسنیو او پوهو شخصیتونو لخوا د غلطو معلوماتو له امله ناسم قضاوتونه لیدل کیږي، چې باید داسې نه وي. لږ تر لږه باید په دې پوه شو چې د افغانستان انټرنیشنل او من و تو شبکه او تر هغو مخکې بي بي سي او امریکا غږ په دې برخه کې د باور وړ شبکې نه دي. پرځای یې، موږ کولی شو د الجزیرې انګلیسي تلویزیون باندې تکیه وکړو که چیرې موږ په عربي نه پوهیږو. سربېره پردې، د فلسطین د مقاومت رسنیز شبکه خورا پراخه او متنوع ده، د لټون په پایله کې تاسو کولی شئ په اسانۍ سره د فلسطین په اړه لومړی لاس او باوري سرچینو ته ورسیږئ.

**2- د جګړې د ماهیت او تاریخ په اړه د پوهې نشتوالی**

له بده مرغه د نوي نسل ډېر افغانان لا هم په دې نه پوهېږي چې اسراییل یو ناروا دولت دی چې د اروپایانو په ځانګړې توګه د انګرېزانو په همکارۍ د اسلامي نړۍ په زړه کې د استعماري موخو لپاره کرل شوی دی. انګلستان د لومړۍ نړیوالې جګړې په شروع کولو سره د عثماني خلافت په ختمولو کې خاین رول لوبولی او د دې نیواکګر رژیم په جوړولو کې یې کار وکړ چې د اسلامي نړۍ افریقا او عربي برخه له نورو برخو څخه جلا کړي چې پخوا د عثماني خلافت تر سیاسي مرکزیت لاندې سره متحد وو. د حیرانتیا خبره ده چې په ۱۹۱۶ کال کې د عثماني خلافت له نسکورېدو مخکې هم د برتانیې د بهرنیو چارو وزیر بالفور له نړیوال صهیونیستي غورځنګ سره ژمنه کړې وه چې دوی به په فلسطین کې یو حکومت ولري. او دا د تاریخ تر ټولو خندوونکې ژمنې دي، ځکه چې د دې اعلان پر مهال، څوک چې د یو څه مالک نه



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

وي، د هغه چا سره ژمنه کوي چې مالک يې نه وي. هغه مهال فلسطين د عثماني خلافت تر واکمنۍ لاندې و او ډېر کم يهود پکې اوسېدل. د دوو نړيوالو جګړو په منځ کې برتانيې چې د عثماني دولت له نسکوريدو وروسته يې د فلسطين ډېره برخه تر خپلې ولکې لاندې راوستې وه، د نړۍ له مختلفو هيوادونو څخه په لسګونو زره يهوديان د صهيونيستي نړيوال غورځنګ په همکارۍ فلسطين ته وليږدول. هغوی ته يې تجهيزات او روزنه ورکړه او د فلسطين د اصلي اوسيدونکو په وړاندې يې جنګ ته هڅول او تمويل کړل. په عين وخت کې يې د مختلفو پلمو له مخې د فلسطينيانو له لاسونو وسلې راټولې کړې او هغوی يې د هر ډول ټولنيز پرمختګ له امکاناتو بې برخې کړل. د يهودانو لپاره د فلسطين د ترلاسه کولو لپاره د برتانيې د ټولو هڅو سره سره، په 1948 کې د فلسطين يوازې 3٪ ځمکه د دوی په لاس کې وه او پاتې نور يې د فلسطينيانو ملکيت وو.

**3- د نړيوال صهيونيسټ غورځنګ د طبيعت په اړه د پوهاوي نشتوالی**

بايد پوه شو چې د اسلامي خاورې په زړه کې د نيواکګر رژيم د شتون او په دې سيمه کې د لويديځ د ګټو د ساتنې تر منځ مستقيمه اړيکه شته. لوېديځ د پخوانۍ استعماري دورې له ختمېدو او په اسلامي نړۍ کې د استعمار د تحريک له پيلېدو وروسته عربي نړۍ ووېشله او په سيمه کې يې د وابسته رهبرۍ په نصبولو سره د تېلو بډايه سيمو لوټلو ته دوام ورکړ. دوی بايد هلته يو متضاد وجود وکړي، چې نه له مذهبي او تاريخي پلوه په سيمه کې له شته جوړښت سره سمون لري او نه د لويديځ له مرستې پرته ژوندي پاتې کيدل ورته ممکن دي. لويديځ له دې کار څخه دوه مهمې موخې درلودې، يو يې په سيمه کې د سياسي او اقتصادي تسلط دوام، دويم يې د اسلامي نړۍ د بيا راټوکېدو او خوځښت او د لويديځ پر وړاندې د هغوی د ودريدو چانس له منځ وړل وو. له همدې امله صهيونيسټ رژيم يو غاصب حکومت دی چې د يوې دسيسې په اساس د فلسطين په خاوره مسلط شوی دی. دا ناروا سازمان د خپل بقا لپاره د لويديځ مرستې ته اړتيا لري او لويديځ د خپلو ستراتيژيکو ګټو له امله د هغې تر شا ولاړ دی. د خليج او د منځنې ختيځ له هيوادونو سره د امريکا د مرستو لومړی شرط دا دی چې د نيواکګر رژيم امنيت ته ژمن وي، له همدې امله امريکا او د اروپا ځواکمن هيوادونه په ښکاره او په خپل ټول قوت سره د نيواکګر رژيم لوري ته دي او د دوی هر جرم توجيه کوي، خو له بده مرغه عربي هيوادونه له امريکا او لويديځ سره د خپلو اړيکو او له غاصب رژيم څخه د ويرې له امله د فلسطين او د فلسطين د خلکو د حقوقو په دفاع کې جدي اقدام نه کوي. او د صهيونيستي رژيم جنايتونه په ښکاره توګه نه غندي.

**4- له خبرو ته عمله**

د فلسطين د ازادۍ غورځنګ يو بنسټيز پړاو ته رسيدلی او له دننه څخه د غاصب رژيم د نسکوريدو نښې څرګندې دي. د دې وروستۍ نښه د طوفان عمليات دي، د طوفان الاقصی په عملياتو کې د صهيونيسټ



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

رژيم د څه دپاسه ۲۷۰ پوځيان او افسران له منځه ولاړل او څه دپاسه ۲۰۰ ژوندي ونيول شول او زرګونه نور په کې ژوبل شول. د دغه ناڅاپه عملياتو په پايله کې د اشغالګر رژيم هغه انځور له منځه ولاړ چې نړۍ ته يې په سيمه کې د يوه ځواکمن هيواد په توګه وړاندې کړی و. ځکه چې نه د مجاهدينو په وړاندې د «ماتې نه خوړونکی» په نامه پوځ څه کولای شول او نه هم د دوی قوي استخباراتو د بريد په اړه کوم مخکينی معلومات ترلاسه کړل. د دغه ډول برياليو عملياتو په ځواب کې نيواکګر رژيم تصميم نيولی دی چې د خپل ورک شوي وقار د بېرته ترلاسه کولو په موخه د غچ اخيستلو داستان پيل کړي، چې مهمې موخې يې په لاندې ډول دي:

- دا وحشيانه هوايي بمباري د غزې د خلکو د غچ اخيستنې له امله ده چې ولې د الاقصی طوفان او د اسراييلو په وړاندې د وسله والو حرکتونو ملاتړ کوي.
- دوی د فلسطينيانو تلفات د اسراييلو تلفات په وړاندې دوه چنده يا درې چنده کړي، ترڅو دوی د ځان لپاره د اوړو پوزه جوړه کړي او د لومړي وزير نتانياهو ګډوډ حکومت له مينځه لاړنشي.
- د تل لپاره د فلسطين څخه د غزې اوسېدونکو د ايستلو په نيت،د غزې د شمالي سيمو د اوسيدونکو مجبورول چې جنوب ته هجرت وکړي، لکه څنګه چې دوی د 1948 په جګړه کې هم دغسې کړي وو او په پايله کې د جګړې له امله د فلسطينيانو موقتي مهاجرت له فلسطين څخه په دايمي مهاجرتونو بدل شو.
- د فلسطين د مقاومت غورځنګ او د حماس مجاهدين د خلکو د ملاتړ څخه بې برخې کول، په سياسي لحاظ (د لويديځ په تفسير او د هغې په مرسته) يې د تروريستي غورځنګونو په لست کې شاملول او د غزې په شمال کې د تل لپاره د هغوی له منځه وړل. هيره دې نه وي چې وواېو په اوسنيو حالاتو کې د غاصب رژيم زياتره خلک او پلويان ځمکنۍ جګړه او غزې ته ننوتل د دغه رژيم د کمزورۍ پوځ لپاره ځانمرګی ګڼي.

په داسې حالاتو کې د هيڅ مسلمان په ځانګړې توګه د افغانستان د عدالت غوښتونکو او سوله غوښتونکو خلکو لپاره مناسبه نه ده چې بې پرې وي او يوازې په لفظي اثبات او دعاګانو راضي وي. دا مهال په غزه کې د خوراکي توکو د برابرولو، د ناروغانو د درملنې، بې ځايه شويو ته د خدمت او نورو بشري اړتياوو لپاره مالي مرستې تر ټولو ستره اړتيا ده. هغه افغانان چې توان لري د هېواد په لوېديځ کې له زلزله ځپلو سره د مرستې تر څنګ، د فلسطين له خلکو سره د باور وړ فلسطينې خيريه بنسټونو له لارې چې د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې فعالې دي، خپلې بشري مرستې ورسوي. او البته مور ټول پوهيږو چې په مال کې جهاد د ميدان له جهاد څخه کم نه دی. د افغانانو دوهم عامه مسووليت دا دی چې د فلسطين د مسئلې د سم درک کولو لپاره هڅه وکړي، چې د روان وضعيت د سم درک په پايله کې د غزې د مقاومت په کلکه ملاتړ وکړي او د غزې د خلکو او د ټول فلسطين په وړاندې د غاصب رژيم جنايتونه وغندي. سربېره پر دې د افغانستان اسلامي امارت بايد د غزې د خلکو په وړاندې د غاصب رژيم د پوځ ورځنی جنايتونه په دايمي توګه وغندي او د دغه رژيم

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

جنایتکارو ملاترړو ته د امریکا او اروپایي هیوادونو په ګډون د مسلمان ملتونو سره د ښکاره دښمنۍ ثخه خبرداری ورکړي. سره له دې چې نړۍ اسلامي امارت په رسمیت نه پیژني خو د نړۍ په ذهنونو کې یې د امریکا د ماتونکې په توګه ښه عکس العمل لري، دا ډول چلند به د صهیونیستی رژیم د مخ تورولو او د فلسطین د ازادۍ په حق کې مثبته اغیزه ولري.

**پای**

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000 +93780618000